مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محب‌الله زغم ۲۰۲۳/۰۸/۲۴

# ديموكراسي په ماشومانو کې

د جمعې پر ورځ مې زامن له خپلو همزولو سره په يوه باغ کې لوبې کولې، کشرى زوى مې چې د دوه نيمو کلونو دى، له ما سره کرځېده. ماشومانو لوبې کولې او زما خپل ماشومتوب يې راياداوه.

همزولي رانه ډارېدل. په نه خبره مې ورسره جنګ و او په جنګ کې زه بر وم. هغه مهال ځان راته تکړه ښکارېده چې هر څوک رانه وهل خوړل؛ خو اوس چې ورته فکر کوم، زه لوچک وم. په دې کې هېڅ کمال نه وينم چې څوک دې خپل ملګري ووهي. موږ به اکثره وخت د خوسي، ډنده کلک، پټ پټاني، توپ ډنده او نورې لوبې کولې. فرضاً که په توپ ډنده کې وار زموږ د ډلې و او د بلې ډلې يوه کس ته يې مور ورناړې کړې چې هله راشه اوږه نانوايي ته يوسه. زه به ورته ببرېدم چې څو پورې زموږ وار نه وي تېر شوى ته نه شې تلاى. هغه خوراکى به حيران و چې د ما ومنې که د مور؟ که پاتې شوى واى، مور به واهه او که تللى واى، ما واهه. داسې ورځې به کمې وې چې زما لاس د چا ګرېوان ته نه و لوېدلى.

موږ د بګرام د هوايي ډګر په بلاکونو کې اوسېدو، ټول د منصبدارانو زامن. يوه ورځ د لاندې اپارتمان هلک «مجيب الرحمن» ته مې غږ وکړ چې راځه د باندې لوبې وکړو. هغه وويل چې مور اجازه نه ورکوي. يوه ګړى دې خوا ها خوا وګرځېدم، هېڅ څوک مې پيدا نه کړل چې ساعت ورسره تېر کړم. لاړم د هغوى دره مې وټکوله. مور يې راووته. ما ورته کړه: «تروري! دا زوى دې درسم کړه که نه کومه ورځ به يې يا سر رانه مات وي يا لاسونه.» د مجيب الرحمن مور هم بې له دې چې د ښه او بده پوښتنه وکړي، چپلکه يې راواخيسته او د زوى په وهلو يې پيل وکړ چې: «ته يې لاسونه مه ماتوه، زه يې پخپله ورماتومه» غريب دومره وواهه چې بغارې يې اسمان ته پورته شوې. هغه مهال به ايله د نهو لسو کالو وم، اوس دېرش کاله پر تېر دي؛ خو لا هم نه پوهېږم ولې مې داسې وکړل.

خو اوسني ماشومان داسې نه دي. زامن مې له خپلو همزولو سره يوه ګړى فوټبال وکړ، وروسته د باغ بل سر ته راکښته شول، هلته چې ما و مجيب الله چکر واهه. په دوى کې ځينو ويل چې بيا به هم فوټبال کوو؛ خو نورو ويل نه دا ځل به پټ پټاني کوو. دوى سره نه جوړېدل. يو چا غږ: «څوک فوټبال ته رايه ورکوي؟» درې څلورو تنو لاسونه پورته کړل. بيا غږ وکړ: «څوک پټ پټاني ته رايه ورکوي؟» نورو لاسونه جګ کړل. پټ پټاني والا ډېر وو، نو ټولو همدې لوبې ته غاړه کېښوده. ما په ماشومتوب کې هېڅ کله د نورو رايې ته نه کتل؛ بلکې نور همزولي مې هم همداسې وو. ټولو به د زورورو منل، زورور څه چې د لوچکانو. زموږ په ډله کې به اکثره وخت لوبه زما په خوښه وه؛ ځکه همزولي رانه ډارېدل چې له ګرېوانه يې ونه نيسم. زه لکه توپکسالارانو غوندې يوازې د ځان په فکر کې وم، د نورو خوښه، د نورو فکر راته هېڅ اهميت نه لاره؛ خو شکر اولادونه مې د متمدنو انسانانو په شان نورو ته هم فکر کوي.

زما په ماشومتوب کې د وطن حالات همداسې وو چې هر څه جبري او په زوره وو. د افغانستان د خلکو ديموکراتيک ګوند د دولت ټولې چارې په خپله خوښه پر مخ بيولې او د نورو خوښې ته بيخي نه کتل، د نورو څه چې ان د ننه په ګوند کې به هم يوازې د مشر خبره د منلو وه او بس، سره له دې چې د ګوند په نامه پورې د ديموکراتيک کلمه نښتې وه خو يوه چاره يې هم ديموکراتيکه نه وه.

اوس ماشومان ويني چې په هر رنګه مساله کې د پارلمان وکيلان خپله رايه ورکوي. اوس خبره د زورورو نه؛ بلکې د ډېرو منل کېږي. دغه دود بې له دې چې چا ورښودلى وي، ماشومانو ته سرايت کړى دى. که حالات همداسې روان وي، بل نسل به مو له ديموکراسۍ سره لا زيات روږدى شي. دوى به د بل فکر او د بل خوښې ته هماغومره اهميت ورکوي څومره چې خپل فکر او خپله خوښه ورته مهمه ښکاري.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ